| | | |
|---|---|---|
| **جمهورية مصر العربية** | | **١٤ شعبان ١٤٤٠هـ** |
| **وزارة الأوقاف** | **لغة البشتو** | **١٩ اپریل ٢٠١٩م** |

## د قبلي د بدليدو پندونه او عبرتونه

ټول ثنا او صفت د هغه الله جل جلاله لپاره دی چې د ټولو مخلوقاتو پالونکی دی هغه پخپل کتاب کې فرمایلي: {لَيْسَ الْبِرَّ أَنْ تُوَلُّوا وُجُوهَكُمْ قِبَلَ الْمَشْرِقِ وَالْمَغْرِبِ وَلَكِنَّ الْبِرَّ مَنْ آمَنَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ وَالْمَلَائِكَةِ وَالْكِتَابِ وَالنَّبِيِّينَ وَآتَى الْمَالَ عَلَى حُبِّهِ ذَوِي الْقُرْبَى وَالْيَتَامَى وَالْمَسَاكِينَ وَابْنَ السَّبِيلِ وَالسَّائِلِينَ وَفِي الرِّقَابِ وَأَقَامَ الصَّلَاةَ وَآتَى الزَّكَاةَ وَالْمُوفُونَ بِعَهْدِهِمْ إِذَا عَاهَدُوا وَالصَّابِرِينَ فِي الْبَأْسَاءِ وَالضَّرَّاءِ وَحِينَ الْبَأْسِ أُولَئِكَ الَّذِينَ صَدَقُوا وَأُولَئِكَ هُمُ الْمُتَّقُونَ} ژباړه: « نېکي یوازي دا نه ده چې تاسي (د لمانځه په وخت کي) خپل مخونه ختیځ لوري ته واړوئ، یا لوېدیځ لوري ته؛ بلکي نېکي دا ده چې انسان پر الله، د قیامت پر ورځ، پر پرښتو، د الله پر نازل کړای شوي کتابونو او د هغه پر پېغمبرانو د زړه له کومي ایمان راوړي. او د الله په مینه کښي خپل ګران مالونه په خپلو خپلوانو، یتیمانو، مسکینانو، مسافرو، دروېزګرو او د مریانو په ازادی مصرف کړي، لمونځ قائم کړي، زکات ورکړي. او نېکان هغه کسان دي چي کله وعده وکړي تر سره یې کړي او د تنګسې او غمونو په وخت کښي او د حق او د باطل په جګړه کښي صبر وکړي، همدا رښتیني او همدا پرهېزګار خلك دي»، او زه ګواهي ورکوم چې نشته لایق د عبادت مګر یو الله دی چې هیڅ شریک نلری، او زه ګواهي ورکوم چې زمونږ سردار او نبي محمد صلی الله علیه وسلم د الله جل جلاله بنده او رسول دی، درود سلام او برکت دي وي په هغه او د هغه په آل او په ټولو ملګرو باندي.

د الله جل جلاله پېرزویني په محمدي امت باندی ددی څخه زیات دي چې هغه وشمیرل شي او د لویو پېښو څخه چې د شعبان په میاشت کې مونږ یی لمانځو د بیت المقدس څخه د بیت الله شریف په لور د قبلي بدلیدل دي زمونږ په اسلامي تاریخ کې دا د لویو پېښو څخه ګڼل کیږي ځکه چې الله جل جلاله د خپل خوږ نبي محمد صلی الله علیه وسلم هیله او امید په ځای

کړه پداسې ډول سره چې په لمانځه کې هغه د خپلو پلرونو قبلې يعنې د بيت الله شريف په لورې يې وګرځولو.
نبي کريم صلی الله عليه وسلم د هجرت څخه مخکې خپل مخ بيت المقدس لور ته يې اړولو او د هجرت څخه وروسته هم شپاړلس مياشتې يا اوولس مياشتې هم ديته يې ادامه ورکړه خو نبي کريم صلی الله ليه وسلم داسې هيله او علاقه درلودله چې په هغه باندې وحې نازل شي او د بيت الله شريف په لورې هغه ته امر وکړې شي چې په لمانځه کې مخ واړوي او په زړه کې يې د الله جل جلاله څخه همدا هيله درلودله او په ژبه باندې هم ددې غوښتنه يې کوله او پدې باوري وو چې الله جل جلاله به د هغه اميد او هيله پوره کوي نو الله جل جلاله د هغه دعاء قبوله کړه او په لمانځه کې يې ورته امر وکړ چې خپل مخ کعبې شريفې لور ته وګرځوي لکه چې الله جل جلاله فرمايي:« قَدْ نَرَى تَقَلُّبَ وَجْهِكَ فِي السَّمَاءِ فَلَنُوَلِّيَنَّكَ قِبْلَةً تَرْضَاهَا فَوَلِّ وَجْهَكَ شَطْرَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ وَحَيْثُ مَا كُنْتُمْ فَوَلُّوا وُجُوهَكُمْ شَطْرَهُ»ژباړه:« د اسمان لوري ته ستا بيا بيا مخ اووښتل موږ وينو، دا دی موږ تا د هغې قبلې (کعبې) لوري ته ګرځوو چې ستا خوښيږي، د مسجد الحرام لوري ته مخ وګرځوه! اوس چې تاسي هر چيري اوسی؛ نو د هماغه لوري ته مخ واړوئ؛ لمونځ وکړئ».
بې له شکه څوک چې د قبلې د بدليدو د پيښې په لوی والی باندې فکر وکړي نو هرو مرو به دې پايلې ته ورسيږي چې پدې کې بيلابيل پندونه او عبرتونه پراته دي چې الله جل جلاله له لوري نبي کريم صلی الله عليه وسلم ته درناوي شوی دی يو هم ددغه پندونو څخه دا دی چې پدې کې د نبي کريم صلی الله عليه وسلم د مرتبې د لويوالي او د هغه د شان د لوړوالي او همدارنګه د الله جل جلاله په نزد د هغه د مرتبې بيان شوی دی دا پخپله د الله جل جلاله پدغه وينا کې چې خپل نبي ته يې کړې ده پکې څرګنديږي لکه چې فرمايي:« فَلَنُوَلِّيَنَّكَ قِبْلَةً تَرْضَاهَا»ژباړه:« موږ تا د هغې قبلې (کعبې) لوري ته ګرځوو چې ستا خوښيږي» د الله جل جلاله

له لوري فضل او عزت او همدارنګه زمونږ د نبي د مرتبی د لوړوالی بیان کړی لکه چې الله جل جلاله ورته فرمايي:« وَلَسَوْفَ يُعْطِيكَ رَبُّكَ فَتَرْضَى»ژباړه:« او ډېر ژر به ستا رب تا ته دومره درکړي چي ته خوشحاله شې» الله جل جلاله هغه ذات دی چې د نبي کريم صلی الله عليه وسلم سینه يي پرانستله لکه چې فرمايي: « أَلَمْ نَشْرَحْ لَكَ صَدْرَكَ»ژباړه:« [اې پيغمبره (ص)!] ایا موږ ستا سینه ستا لپاره پراخه نه کړه؟» د هغه څخه يي بار ليري کړ لکه چي فرمايی: «وَوَضَعْنَا عَنْكَ وِزْرَكَ ژباړه:« او ستا څخه مو ستا هغه پېټي بنکته کړ؛» د هغه ګناهونه يي وبخښل لکه چي فرمايي: « إِنَّا فَتَحْنَا لَكَ فَتْحًا مُبِينًا لِيَغْفِرَ لَكَ اللَّهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِكَ وَمَا تَأَخَّرَ»ژباړه:« [اې پيغمبره (ص)!] بېشکه موږ تا ته ښکاره فتحه او بری درکړی دی؛ تر څو چي الله ستا له مخکېنی او وروستنی هري ګناه څخه در تېر شي» د هغه د خبرو تائيد يي وکړ لکه چې وايي« وَمَا يَنْطِقُ عَنِ الْهَوَى»ژباړه:« دغه (محمد ص) له خپل نفسي خواهش څخه خبري نه کوي؛» د هغه زړه يي پاک کړ لکه چې فرمايي: « مَا كَذَبَ الْفُؤَادُ مَا رَأَى» ژباړه:« سترګو چي څه وليدل، زړه په هغه کښي درواغ ګډ نه کړل» {مَا ضَلَّ صَاحِبُكُمْ وَمَا غَوَى} ژباړه:« ستاسي ملګری نه بېلاري شوېدی او نه يې په سرغړاوي سره سمه لاره پرې ایښې ده؛» {مَا زَاغَ الْبَصَرُ وَمَا طَغَى} ژباړه:« ه (د محمد ص) سترګي (بلي خوا ته) وګرځېدې، نه له حده تېر شو.» «عَلَّمَهُ شَدِيدُ الْقُوَى» ژباړه:« هغه ته برلاسی ځواکمن (جبرائيل ع) ښوونه کوي؛» {وَإِنَّكَ لَعَلى خُلُقٍ عَظِيمٍ}، ژباړه:« او بېشکه ته د لوړو اخلاقو مرتبه لرې.» {لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ اللَّهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ}ژباړه:« په يقيني توګه، ستاسي لپاره د الله په پيغمبر کي د نېکۍ يوه خورا غوره نمونه ده.

د قبلي د بدليدو د پندونو او عبروتونو څخه بل هم دا دی چې اسلامي امت بايد د منځلاريتوب او د اعتدال لاره غوره کړي ځکه چې د غه لوي پيښي ددغه امت د منځلاريتوب بنسټ کيښوده لکه چې الله جل جلاله فرمايي:«

وَكَذَلِكَ جَعَلْنَاكُمْ أُمَّةً وَسَطًا لِتَكُونُوا شُهَدَاءَ عَلَى النَّاسِ»ژباړه:« او په همدې ډول موږ یو اُمت وسط (غوره امت) ګرځولي یاست چې تاسي پر نړیوالو شاهدان ووسي».
هغه منځلاریتوب چې پراخه مفهوم لري او د ژوند ټولو اړخونو ته شامليږي بغير لدي چې په هغه کې افراط او يا هم تفريط وکړی شي چې دا په عدالت او نيکی باندی ولاړ دی او همدارنګه په منځلاريتوب او برابری باندی ولاړ دی او موږ ته مناسبه ده چې دغه منځلاريتوب ته وګرځو ځکه چې الله جل جلاله موږ ته ددی شرافت راکړی دی او په حقه سره بايد موږ منځلاريتوب ووسو او په ټولو چارو کې دا پلي کړو لکه چې الله جل جلاله فرمايي:« وَلَا تَجْعَلْ يَدَكَ مَغْلُولَةً إِلَى عُنُقِكَ وَلَا تَبْسُطْهَا كُلَّ الْبَسْطِ فَتَقْعُدَ مَلُومًا مَحْسُورًا»ژباړه:« مه خپل لاس تر غاړي تړه او مه يې بيخي داسي غځولی پرېږده چې پړ او بيوسي پاته شې» بل ځای کې فرمايي: « وَالَّذِينَ إِذَا أَنْفَقُوا لَمْ يُسْرِفُوا وَلَمْ يَقْتُرُوا وَكَانَ بَيْنَ ذَلِكَ قَوَامًا» ژباړه:«هغه کسان چې کله لګښت کوي، نو نه بېځايه لګښت او نه بخيلي کوي. بلکه د هغو لګښت د دغو دواړو سرحدونو په منځ کښي په ميانه روی ولاړ وي.» امام اوزاعی رحمه الله وايي: د اسلام په مبارک دين کې چې الله په کوم کار امر کړی وي شيطان هڅه کوي چې ددغه چاری په دوو اړخونو باندی کار وکړي ترڅو يا پکې افراط راولي او يا هم پکې تفريط نو د همدي لپآره لازمه ده چې موږ بايد د زغم او د اسانی لاره غوره کړو نه دا چې د افراط لاره او يا هم د تفريط او همدارنګه موږ او تاسی بايد په ديني اخلاقي ارزښتونو باندی ځان پابند کړو بغير لدی چې کوم ډول تندروي او يا هم د حد څخه تيری پکې وکړو.
همدارنګه د محمد صلی الله د امت ګواهي چې په نورو امتونو باندي ورکوي دا پخپله ددي امت لپاره يو ډول تکريم دی نو امت ته لازمه ده چې خپل واجبات پدغه ډګر کې سرته ورسوي ترڅو د ګواهی وړتيا په ځان کې پيدا کړي د ابي سعيد خدري ری الله عنه نه روايت دی چې نبي

کریم صلی الله علیه وسلم فرمایلي: نوح علیه اسلام به د قیامت په ورځ راشي هغه ته به وویل شي چې آیا تا هغه څه چې مونږ تاته رسولی وو تا خلکو ته رسولي؟ هغه به ورته وایي هو اي الله، بیا به د امت څخه یي پوښتنه وشي چې هغه څه چې تاسو لیږل شوي وو تاسو ته یی رسولي دی هغوي به وایي مونږ هیڅوک ویرونکی نه وو راغلی نو بیا به نوح ته وویل شي چې ستا ګواهان څوک دي هغه به وایي محمد صلی الله علیه وسلم او د هغه امت نو بیا به دوی راوستلی شي او ګواهي به ورکړي له هغی وروسته نبي کریم صلی الله لیه وسلم دغه ایت ولوستلو لکه چې الله جل جلاله فرمایي:« وَكَذَلِكَ جَعَلْنَاكُمْ أُمَّةً وَسَطًا لِّتَكُونُوا شُهَدَاءَ عَلَى النَّاسِ وَيَكُونَ الرَّسُولُ عَلَيْكُمْ شَهِيدًا» ژباړه:« او په همدې ډول موږ یو اُمت وسط (غوره امت) ګرځولي یاست چي تاسي پر نړیوالو شاهدان او پیغمبر پر تاسي شاهد اوسي».

د قبلي د بدلیدو د پندونو او د عبرتونو څخه بل هم دا دی چې مومنو مسلمانانو الله جل جلاله امر ته په ډیری چټکی سره غاړه کیښوده او همدارنګه د الله جل جلاله د رسول امر یي ومنلو دغه پیښه د صحابه ؤ په ژوند کې یو بیلونکي پښه وه چې د صحابه ؤ د باور ښودنه کوي په هر هغه څه باندي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د الله جل جلاله له لوري هغوي ته رواړي دي د هغوي زړونه د هغه څه لپاره پرانستل شوي وو لکه چې الله جل جلاله فرمایي:« وَمَا جَعَلْنَا الْقِبْلَةَ الَّتِي كُنْتَ عَلَيْهَا إِلَّا لِنَعْلَمَ مَنْ يَتَّبِعُ الرَّسُولَ مِمَّنْ يَنْقَلِبُ عَلَى عَقِبَيْهِ وَإِنْ كَانَتْ لَكَبِيرَةً إِلَّا عَلَى الَّذِينَ هَدَى اللَّهُ» ژباړه:« پخوا چي تاسي کوم لوري (بیت المقدس) ته مخ اړوه، هغه مو یوازي ددې ښووني لپاره قبله ټاکلې وه چي څوك (کعبې ته په مخ اړولو کي) د پیغمبر(ص) پیروي کوي او څوك په شا اوړي. دا کار خو ډېر سخت ؤ، مګر د هغو کسانو لپاره هیڅ سخت ثابت نشو چي د الله له لارښووني څخه یې ګټه اخیستې وه».

دوی د الله جل جلاله د امر او د هغه رسول د امر د منلو یو ښه بیلګه وړاندی کړه د الله جل جلاله د امر څخه سم دستي وروسته چې د مسجد اقصی څخه يي د مسجد حرام لوري ته يي د قبلي د بدلولو امر وکړ نو مومنانو دغه امر ومنلو او خپل مخونه يي پداسي حال کي چې دوي په لمانځه ولاړ وو بیت الله لوری ته واړول ترڅو خپل لمونځونه پوره کړي دي پوري يي هم صبر ونکړ چې خپل لمونځ خلاص کړي بلکي مخونه يي په لمانځه کې واړول او همدارنګه دوي خپل مخونه پداسی حالت کې واړول چې د رکوع په وخت کې وو او خپل مخونه د بیت المقدس نه بیت الحرام ته واړولو د ابن عمر رضی الله عنه څخه روایت دی وايي: مونږ په قبا جومات کې د سهار په لمانځه ولاړ وو چې یو څوک راغی او وی ویل چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم باندی د شپي وحی نازل شوی ده او امر ورته شوی دی چې کعبي لوری ته مخ واړوي او لمونځ وکړی نو ددوي مخونه چې د شام طرف ته وو مخونه یی د کعبی لوری ته واړول.
د هغو پندونو او عبرتونو څخه چې پدي کې پراته دي بل هم دا دی چې د لمانځه د اهمیت او د مرتبی ښودنه کوي او همدارنګه د الله جل جلاله د پراخ رحمت بیانوي چې پخپلو بندګانو باندی يي لري قرانکریم د لمانځه او همدارنګه د دوو لویو پيښو چې په اسلامي تاریخ کې له مهمو پيښو څخه ګڼل کيږي يو له بل سره تړلي دي چې یو هم د اسراء او د معراج معجزه ده چې په هغي کې هم لمونځ فرض کړی شو او د اوو اسمانونو پورته د اسراء او د معراج په شپه دا لازمي شو ترڅو ددی د شان د لویوالي ښودنه وکړي او همدارنګه د هغي د لویوالي اندازه مونږ ته بیانوي همدارنګه قرانکریم د قبلي د بدلیدو د پيښي سره لمونځ وتړلو او د هغي تعبیر یی د ایمان په لفظ سره کړی دی لکه چې الله جل جلاله فرمايي:« وَمَا كَانَ اللَّهُ لِيُضِيعَ إِيمَانَكُمْ»ژباړه:« الله به ستاسي ایمان (بیت المقدس ته لمونځ) هیڅکله ضایع نه کړي.» یعني ستاسو پخواني لمونځونه، ابن عباس رضی الله عنه څخه روایت دی وايي: کله چې نبي

کريم صلی الله عليه وسلم خپل مخ کعبی لوری ته واړولو نو ورته وويل شو د هغه چا حالت څنګه دی چي زمونږ ورونه وو او هغوي وفات شوي دي او هغوي لمونځونه د بيت المقدس په لوري کړي دي نو بيا الله جل جلاله دغه ايت نازل کړو چې فرمايي:« وَمَا كَانَ اللَّهُ لِيُضِيعَ إِيمَانَكُمْ»ژباړه:« الله به ستاسي ايمان (بيت المقدس ته لمونځ) هيڅکله ضايع نه کړي.» نو دا پخپله فرمانبرداري ده او پدي کې هغوي ته ډاډګيرنه ورکړل شوه چې هغه لمونځونه چې دوي د بيت المقدس په لوري کړي دي هغه قبول دي بيا ايت پداسی ډول سره پاي ته ورسيدو چې د مسلمانانو په زړونو کې يي سلامتيا رامنځته کړه او د ټولو خلکو لپآره يو ډول تشويق شو لکه چې الله جل جلاله فرمايی:« إِنَّ اللَّهَ بِالنَّاسِ لَرَءُوفٌ رَحِيمٌ» ژباړه:« الله پر خلکو ډېر زيات مهربان او رحم کوونکی دی.» کله چې الله جل جلاله مهربانه او نرم زړه والا دی په ټولو خلکو باندی مهربانه دی نو هغه پخپلو مومنو بندګانو باندی ډير مهربانه او د رحمت خاوند دی.

د قبلي د بدليدو د پندونو او عبرتونو څخه بل هم دا دی د مسجد حرام چې په مکه مکرمه کې دی او مسجد اقصی چې په بيت المقدس کې دی د دواړو جوماتونو ترمنځ يي ټينګه اړيکه بيانه کړی ده او همدارنګه دا يی بيان کړي چې ددی دواړو جوماتونو ترمنځ يو پياوړی اړيکه موجوده ده مسجد حرام چې لومړني جومات دی او الله جل جلاله د ځمکی په سر دا جوړ کړی دی او مسجد اقصی بيا دوهم جومات دی چې د ځمکي پر سر جوړ شوی دی د ابي ذر رضي الله عنه څخه روايت دی وايی: ما وويل اي د الله رسوله کوم يو جومات په ځمکه کې لومړی جوړ شوی؟ هغه وفرمايل: مسجد حرام بيا می ورته وويل چي بيا کوم بيا راته وويل چې مسجد اقصی بيا می ورته وويل دواړو ترمنځ څومره فاصله وه وی فرمايل: څلويښت کاله او لدي دواړو وروسته بيا چې هر چيرته د لمانځه وخت راغی نو لمونځ وکړه ځکه چې هماغه ستا لپاره جومات ګرځي.

نو د قبلي بدليدل د دواړو جوماتونو ترمنځ کلکه اړيګه رامنځته کړی ده لکه څنګه چې اسراء او معراج ددي دواړو جوماتونو ترمنځ کلکه اړيکه بيانه کړی وه الله جل جلاله فرمايي:« سُبْحَٰنَ الَّذِىٓ أَسْرَىٰ بِعَبْدِهِۦ لَيْلًا مِّنَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ إِلَى الْمَسْجِدِ الْأَقْصَا الَّذِى بَٰرَكْنَا حَوْلَهُۥ لِنُرِيَهُۥ مِنْ ءَايَٰتِنَآ ۚ إِنَّهُۥ هُوَ السَّمِيعُ الْبَصِيرُ »ژباړه:«هغه ذات پاك دی چي يوه شپه يې خپل بنده له مسجد حرام څخه تر هغه ليري (اقصي) مسجد پوري بوته، د هغه (محمد ص) چاپيرېال مو برکتي کړی دی، چي خپلي ځيني نښاني په وګورو (وښيو). په حقيقت کښي هماغه (الله) د هر څه اورېدونکی او ليدونکی دی.» .

نو له همدی لپاره لازمه ده چي ددغه دواړو جوماتونو ساتنه بايد وکړو او ددی په ساتنه کې بايد کوتاهي ونکړو دا دواړه د ټولو مسلمانانو په غاړه امانت دي ترڅو ددی ساتنه وکړي تر هغه پوری چې ځمکه او د ځمکي په سر ژوک موجود وي.

اقول قول هذا و استغفرالله لی و لکم.

ټول ثنا او صفت د هغه الله جل جلاله لپاره دی چې د ټولو مخلوقاتو پالونکی دی، زه ګواهي ورکوم چي نشته لايق د عبادت مګر يو الله دی او زه ګواهي ورکوم چي زمونږ سردار او نبي محمد صلی الله عليه وسلم د الله جل جلاله بنده او رسول دی درود سلام او برکت دي وي په هغه او د هغه په آل ملګرو او په هغه چا باندي چې د قيامت تر ورځې پوري پوري د هغه تابعداري کوي.

درنو مسلمانانو ورونو:

د نبي کريم صلی الله عليه وسلم د ژوند ځانګړتيا دا وه چې په هر پړاو کې يي مثبت لوری ته بلنه کوله نبي کريم صلی الله عليه وسلم پنځلس کلن وو چې د حلف الفضول په نامه غونډه کې ګډون وکړ چې د قريشو مشران ورته راټول شوي وو او ټول د عبدالله بن جدعان په کور کې جرګه وو او دی ټولو تړون او عهد وکړ چې په مکه مکرمه کې د مظلوم او همدارنګه

د هغه چا سره چې ناتوانه وي مرسته کوي او هغه څوک چې ظلم کوي په یوه خوله او په یو لاس به د هغه مخنیوي کوي نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایي: د عبدالله بن جدعان په کور کې زه حاضر ومه په هغه غونډه کې چې د حلف په نامه وه ماته د سرو اوښانو نه دا ډیره مهمه وه.

په پینځه دیرش کلني کې نبي کریم صلی الله علیه وسلم د کعبي د بیارغونی چارو کې برخه واخیسته پداسی ډول سره چې تیږي به یي پخپلو اوږو باندی راوړي او د هغه لوي اختلاف مخنیوي وکړ چې نږدی وه د قریشو ترمنځ رامنځته شي کله چې دوی پخپلو منځو کې اختلاف وکړ او هریو غوښتل چې د حجر الاسود تیږه د بیت الله شریف په هغه ځانګړي شوي ځاي کې کیږدي نو همدا وو چې ټول د نبي کریم صلی الله علیه وسلم نظر ته غاړه کیښودله او ټولو قبایلو یو شان د حجر اسود په ایښودو کې برخه واخیستله.

نبي کریم صلی الله علیه وسلم د بعثت څخه وروسته یو ښه رهنما او په مثبتو چارو کې یو ښه پیشوا وو همدارنګه هغه په هر ډګر کې یو ښه پیشوا وو نبي کریم صلی الله علیه وسلم په خلکو کې نیک انسان وو او همدارنګه تر ټولو ډیر شجاع تر ټولو ډیر سخي وو لکه چې حضرت علی رضی الله عنه فرمایلي همدارنګه نبي کریم صلی الله علیه وسلم د خپلو صحابه ؤ سر د خندق په ویستلو کې هم ګډون کړی وو.

نبي کریم صلی الله علیه وسلم خپل امت دیته هڅولی چې مثبت کارونه باید ترسره کړي او د منفي کارونو څخه ځان وژغوري نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایی: په تاسو کې د داسی څوک نه وي چې ووایی زه د خلکو سره یم هغوي که ښه کار کوي نو زه هم کوم او هغوي که بد کار کوي نو زه هم بد کارونه کوم بلکي خپل ځانونه مستقل کړي که چیرته خلک ښه کارونه کوي نو تاسی هم ښه کارونه وکړی اوو که چیرته هغوی بد کارونه کوي نو تاسی یی مکوي.

د مثبتوالي معنی او مقصد دا دی چې انسان باید د خپل دین او د هیواد په وړاندی د مسئولیت احساس ولري ځکه چې د هیواد سره مینه د یو انسان لپاره یواځي په احساساتو او عاطفی پوری نه دریږي بلکي لازمه ده چي دا په خپل سلوک او عمل کې هم ثابت کړي ځکه مثبت انسان هغه وي چې د خپلي ټولنی مسایلو په حل کي رغنده رول ولوبوي او همدارنګه د خپل چاپیریال په جوړونه کې او په ګټه رسونه کې خپل رول اداء کړي.

بی له شکه د مثبتوالي د نښو څخه بل هم دا دی چې باید په جدي ډول سره په ټولو هغو چارو کې انسان ګډون وکړي چې د ټولني په ګټه وي او ددی لامل کیدلای شي چې هیوادونه جوړ شي او د برقراری او د پرمختګ ساتنه يي کیږي برابره خبره ده چې هغه د هیواد د د فاع له لاری څخه وي او که د کار او د مهارت له لاري نه وي او یا هم د کفالت او یا د یو هیواد د وګړو ترمنځ د یووالي او د وروړلي د رامنځته کیدو له لاری نه وي او همدارنګه مثبت ګډون باید وکړی شي په ټولو هغو چارو کې چې هغه هیواد ته ګټه رسوي هغه که د قوانینو له لاري نه وي او یا هم د نورو چارو له لاری نه وي او همدارنګه هغه ټول امانتونه چې دده په غاړه وي هغه باید اداء کړي ترڅو د هیواد د لوړوالي لپآره کار وکړي او خپل ضمیر باید په ملي مسایلو کې ویخ وساتي لکه چې احمد شوقي وایي:

په ریښتیا د هیواد لپاره د هر وګړي په وینه کي

د وطن پور او د هغه په غاړه امانت دی چې ادا کړي.

ای خدایا! مونږ ته حق ښکاره کړې او مونږ د هي پیروان وګرځوي او د باطل ښودنه هم وکړي ترڅو د هغي څخه ځان وژغورو، د مصر ولس یوځ او د پولیسو ساتنه وکړې.